محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۹/۱۰

# زموږ توریزم

تېره میاشت د سمنګان تخت رستم ته تللي وو. له موږ سره د امریکا د آیوا پوهنتون استاد او د لیکلو د نړۍ وال پروګرام مشر کریستوفر مېرل هم و. هلته مو داسي څوک پسي غوښت چې د دې تاریخي آبدې په اړه راته معلومات راکړي. نفر پیدا شو. د سمنګان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له خوا ټاکل شوی کس راغی. ده نو معلومات داسي راکړل: رستم د ایبک د پاچا پر لور تهمینې مین شو. تهمینې پسي یې مرکه ولېږله. دې وویل چې زه درې شرطونه لرم، که دې پوره کړل نو واده به درسره وکړم. یو شرط یې دا و چې د هماغه لويي پربښي له سره دې توپ کړي چې اوس په تخت رستم مشهور دی. بل شرط په تش لاس سره له ښځه د یوې لويي ونې ایستل وو او درېیم شرط یې د زردشتیانو ماتول او له دې ځایه یې شړل وو. رستم درې واړه شرطونه پوره کړل او له تهمینې سره یې واده وکړ.

د تخت رستم شمال خوا ته د ګچو او چونې یوه غونډۍ ده چې سر یې په خاورو پوښلی دی او منځ کې یې ګڼې سمڅې، غارونه او کوټې دي. دغه ښاغلي بیا دا کوټې او غارونه راوښودل چې په دې کوټه کې د رستم او تهمینې نکاح وشوه، دلته بازار و، دا یې حمام و، دلته به یې کالي بدلول او دلته به یې په دې حوض کې لامبل.

دغه افسانوي خبرې په زړه پورې خو وې خو مستندې نه وې. په داسي موردونو کې لارښود باید اول هغه څه ووايي چې محققانو په خپلو علمي څېړنو کې موندلي دي. مثلاً د یوه ځای دقیق یا تخمیني عمر، په کومه دوره کې اباد شوی، د څه لپاره اباد شوی، د تاریخ په اوږدو کې څه بدلونونه په کې راغلي ... او بیا په پای کې هغه څه چې په دې اړه په افسانو او روایتونو کې راغلي دي.

د دې تاریخي آبدې په اړه په کتابونو کې راغلي دي چې د سمنګان د مرکز ایبک ښار سویل خوا ته 1.5 کیلومتره لرې د بودایانو یوه آبده ده چې خلک یې تخت رستم بولي. بودایانو غوره ګڼله چې خپل معبدونه د داسي غرونو او غونډیو په ډډو یا منځ کې جوړ کړي چې توږل یې اسانه وي. دې ځای کې هم غونډۍ د ګچ او چونې له تیږو جوړه ده نو بودیانو په کې لويي سمڅې کیندلي وې. بله خبره دا ده چې بودیانو ته دا فکر د تاریخ نه مخکې غارونو په لیدو پیدا شوی و چې باید په ځینو ځایونو کې خپل معبدونه د غرونو په دېوالونو کې د سمڅو په شان جوړ کړي.

همدارنګه د جوتو تیږو په توږلو سره د استوپې جوړول هم د بودایانو د خوښې کار و. تخت رستم پر یوه لويه ډبره ډبرینه مکعبي کوټنۍ ده چې لس متره لوړه ده او چارچاپېره ۸۰ متره ده. دوی د تبرکاتو د صندوق د ایښودلو لپاره په استوپو کې یا استوپې ته نږدې همداسي کوټنۍ جوړولې. *(شناسنامهء آبدات تاریخی افغانستان، فیض الله محتاج، ریاست انتشارات بیهقی، ۱۳۹۴)*

خو پوهاند محمد حسین یمین په دې باور دی چې د دې لويي تیږې پر سر دا کوټنۍ د منزوي راهب لپاره جوړه شوې وه چې هلته په آرامه مراقبه وکړي. *(افغانستان تاریخی، محمد حسین یمین، ۱۳۸۰)* د تیږې چار چاپېره ژوره کنده ده چې د خندق په شان به له اوبو ډکېده او بیا څوک نه شول کولای چې کوټنۍ ته ورننوځي او راهب ته مزاحمت وکړي.
که نن په وطن جنګ دی او سیلانیان ورته چندانې نه راځي نو سبا ته مو هیله شته چې وطن به ارام وي. بیا به نو هر کال زرګونه سلانیان راروان وي ځکه چې افغانستان خورا لرغوني تاریخي اثار او تاریخي آبدې لري چې لیدلو ته یې د هرچا زړه تخنېږي. خو دغه سیلانیان بیا تمه لري چې موږ ورته دقیق او مستند معلومات ورکړو. د دې کار لپاره د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت باید د ټولو تاریخي آبداتو فهرست جوړ کړي. بیا دې څېړونکي ورته وګوماري چې د هرې آبدې په اړه دقیق معلومات راغونډ کړي. دغه معلومات باید هم د یوه جامع کتاب په بڼه چاپ شي او هم د هر ولایت د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

تاريخي آبداتو په اړه معلومات د هماغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست ته ولېږل شي. د ولايتونو مسوولان دې د هرې سيمې معلومات سيمه ييزو چارواکو ته واستوي.

همدرانګه د سيلانيانو د لارښووني لپاره په کار ده چې مسلکي کسان وروزل شي. دغه کسان بايد پوره معلومات تر لاسه کړي او د هرې آبدې په اړه راغلي روايتونه او افسانې هم راپيدا او ياد کړي.

نن سبا ټوريزم د ځينو هېوادونو د عايداتو مهمه منبع ده او که افغانستان هم ورته پام وکړي، له دې درکه به ډېرو خلکو ته کار روزګار برابر شي. پر خارجي ټوريزم سربېره، موږ کولای شو داخلي ټوريزم ته هم وده ورکړو. که زموږ خلک د خپل وطن تاريخي ځايونه وګوري، له وطن سره مينه به يې زياته شي او د يو ډول وياړ او غرور تر څنګ به د دې وطن د مالکيت حس هم ورپيدا شي، بيا به څوک په اسانه د وطن ورانولو ته زړه نه ښه کوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ